# د ۱۳۹۳ کال د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو ټاکنو کې د ګډون له پاره د رأی ورکوونکو نوم ثبتونه



## که ګورئ چې څوک د نوم ثبتونې د بهیر له مقرراتو څخه تخلف او تخطي کوي، اعتراض او شکایت ځنې کولی شئ.

د رأی ورکولو شرایطو باندې برابر افغانان او د سیاسي ګوندونو استازي د نوم ثتبونې د بهیر د رڼاوي له پاره د درخواست کوونکو پر ضد تر نوم ثبتونې وړاندې اعتراض کولی شي. دغه راز ، د نوم ثبتونې ټول بهیر کې د نوم ثبتونې مرکزونو ، د مرکزنو د مدیرانو دفترونو ، ولایتي دفترونو او کابل کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر کې شکایت درجولی شئ. د نوم ثبتونې ټولو محلونو کې د شکایت فورمې (VR-۰٤) شته. شکایت کوونکی د فورمې د ډکولو له پاره د نوم ثبتونې د محل له رئیس ، د خپلې کورنۍ له غړي او یا کوم دوست څخه مرسته غوښتلی شي.

کوم شکایتونه چې د مرکز مدیر یې نه شي حلولی ، او یا کوم شکایتونه چې نیغ په نیغه د مرکز مدیر ته راجع شوي ، د پرېکړې له پاره د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ولایتي دفتر استول کېږي. کوم شکایتونه چې ولایتي دفتر یې حل نه شي کړی ، کابل کې مرکزي دفتر ته استول کېږي. له شکایتونو سره د چلند باره کې د ټاکنو ولایتي دفترونو او مرکزي دفتر کې یو ډول طرزالعمل تطبیقېږي.




نا ویلي دې پاتې نه وي چې د نوم ثبتونې د مرکزونو امنیت کاملا تأمین دی. څوک چې له تهدیده کار اخلي او یا د محل د رئیس له لارښوونې سره سم عمل نه کوي ، امنیتي ماموران یې د محل د رئیس په غوښتنه د نوم ثبتونې له محله باسي. د امنیتي کارکوونکو چلند په هر حال کې بې پرې دی. لنډه خبره دا ده چې له امنیتی مؤظفو کارکوونکو پرته هیڅوک له وسلې سره د نوم ثبتونې مرکز یا محل ته نه شي ورننوتلی.




که د نوم ثبتونې د بهیر باره کې څه پوښتنه لرئ،
۱۹۰ وړیا شمېره ووهئ او معلومات وغواړئ!

## نن مو نومونه ثبت کړئ، چې سبا رأیه ورکړی شئ!

د ډېرې خوشحالۍ خبره ده چې لږ څه دپاسه یوه لسېزه کې د هېواد د مشرتابه د تعیین له پاره دا دې درېم ځل د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې کېږي او د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دغه بهیر د ترسره کېدا له پاره د رأی ورکوونکو نوم ثبتونه پیل کړې ده. نوم ثبتونه د ټاکنو د ترسره کېدا یو مهم او اساسي بهیر دی چې لومړی دور یې د ۱۳۹۲ کال د جوزا پنځمه نېټه د ولایتونو مرکزونو کې پیل شو. د دغه بهیر دوهم دور به د روان کال د اسد پنځمه نېټه د ولسوالیو مرکزونو کې پیل او د مېزان څلورمه به پای ته ورسېږي. د نوم ثبتونې هدف دا دی چې د ۱۳۹۳ کال د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو د ټاکنو له پاره شرایطو باندې د برابرو کسانو یو د پام وړ لسټ برابر شي او نوي رأی ورکوونکي د رأی ورکولو مشخصو مرکزنو ته لاره پیدا کړي.

## پوازې هغه څوک د رأی ورکولو پر ورځ رأیه ورکولی شي چې د رأی ورکولو کارت ولري.

د افغانستان هر هغه تبعه چې د نوم ثبتونې پر مهال ۱۷ کلن وي او د ۱۳۹۳ کال د حمل تر ۱٦مې نېټې پورې ۱۸ کلن کېږي او یا ۱۸ کلن یا تر ۱۸ کلنۍ پورته وي ، او د نوم ثبتونې تېرو بهیرونو کې یې ونډه نه وي اخېستي ، د رأی ورکولو کارت تر لاسه کولی شي. دغه راز ، چا چې د نوم ثبتونې تېرو بهیرونو کې نوم ثبت کړی خو مخکېنۍ انتخاباتي حوزه یې بدله کړې وي ، نوې ټاکنیزه حوزه کې (هغه ولایت کې چې ورکوچېدلی دی) خپل نوم ثبتولی شي. چا چې د رأی ورکولو پخوانې کارت ورک کړی ، یا له پېژندګلوۍ وتلی وي ، هم له نوي سره نوم ثبتولی شي. پر دې سربېره ، هغه مهاجر افغانان چې هېواد ته راستانه شوي او نومونه یې لا نه دي ثبت کړي ، دوی هم د رأی ورکولو کارت تر لاسه کولی شي. د رأی ورکولو پخواني کارتونه اعتبار لري او چا چې الکترونیکي تذکرې اخېستي ، هغوی هم رأی ورکولی شي.



## د نوم ثبتونې له پاره داسې سندونه وښیئ چې د رأی ورکولو شرایطو باندې د برابر افغان پېژندګلوي مو څنې کېږي.

کوم سندونه چې د نوم ثبتونې پر مهال مو پېژندګلوي څنې کېږي ، دا دي: د تابعیت تذکره ، د دولت د کارمندوالي سند ، پاسپورټ ، له عسکري خدمت څخه ترخیص ، د مځکې د ملکیت سند ، د سوداګرۍ تصدیق ، د صحي بیمې سند ، راستنو شویو مهاجرو ته د UNHCR له لوري ورکړی شوې فورمه ، ..... ملک او د ګذر وکیل هم د درخواست کوونکي هویت تأییدولی شي خو چې د ده ، د ده د پلار او د ده د نیکه نوم واخلي ؛ د تولد تاریخ او اوسنی آدرس یې وښیي. د درخواست کوونکي د پېژندګلوۍ نورو شواهدو کې د ده د کورنۍ د غړي شهادت راځي.



## د ټاکنو له پاره د نوم ثبتونې مرکزونه او محلونه داسې ځایونو کې جوړ شوي چې ښځې، معلول کسان او کوچیان هم آسانه ورتللی شي.

د ښخو او نرو د نوم ثبتونې له پاره جلا محلونه جوړ شوي. کوچیان هم د نوروهېوادوالو په شان د نوم ثبتونې محلونو ته د رأی ورکولو د کارت د ترلاسه کولو له پاره ورتللی شي. د نوم ثبتونې ټول مرکزونه او محلونه د نوم ثبتونې موده کې پرانیستي وي. د نوم ثبتونې محلونه له جمعې پرته هره ورځ سهار ۸ بجې پرانیستی او مازیګر ٤ بجې تړلی کېږې. معلول کسان چې مرستې ته اړ دي ، د کورنۍ کوم غړی ، کوم ملګری یا کوم باوري کس د نوم ثبتوې محل ته بوولی شي. معلول کسان د نوم ثبتونې د محل له رئیس څخه هم کمک غوښتلی شي.



## د نوم ثبتونې بهیر ډېر ساده دی: زیات وخت مو نه نیسي.

د نوم ثبتونې محلونو کې د رأی ورکوونکو نومونه درېوو مرحلو کې ثبتېږي. لومړۍ مرحله کې درخواست کوونکي له محله بهر کتار کې تنظیمېږي او ورته ویل کېږي چې د پېژندګلوې سندونه یا هغه کسان چې د دوی پېژندګلوي کوي ، ورسره وي. دوهمه مرحله کې درخواست کوونکو ته د نوم ثبتونې بهیر توضیح کېږي. شرایطو باندې د برابرۍ له پاره یې د پېژندګلوې سندونه کتل کېږي. کله چې شرایطو باندې د درخواست کوونکي برابری تثبیت شو نو تر تصویر اخېستلو ورسته د کارت د ترلاسه کولو له پاره د نوم ثبتونې مامور ته ورځي. د دې بهیر درېمه مرحله کې د نوم ثبتونې مامور ضروري معلومات په فورمه او د رأی ورکولو کارت کې درجوي. د درخواست کوونکي تصویر د نوم ثبتونې فورمې او کارت کې لګوي. وروسته د درخواست کوونکي لاسلیک یا د ګوتې نښه اخلي. کارت پوخوي او درخواست کوونکي ته یې ورکوي. سپارښتنه ورته کوي چې خپل کارت خوندي وساتي او د ټاکنو پر ورځ یې له ځانه سره ولري.



ستاسو رأی، ستاسو راتلونکی

رأی شما، آینده شما